یونس نګاه
۰۵ اګست ۲۰۲۴



**یونس نګاه**

# کوم کتابونه ولولو؟

سیاست، ټولنې، ادبیاتو او کلتور ته لېواله متوسط/منځي انسانان د خپل کار د اغېزناکـوالي لپاره اړتیا لري، چې دغه څو لړی کتابونه ولولي:

۱) د هغې ټولنې مقدس کتابونه په کومه ټولنه کې چې هغه ژوند کوي او هغه مقدس کتابونه چې د نننی نړۍ د کلتور، ادب او سیاست په جوړښت کې یې ژور او نړیوال اغېز کړی دی. له دې کتابونو سره له اشنا کېدو پرته د ملګرو او سیاسي مخالفینو د پیغامونو په ترلاسه کولو کې او په هغو پوهېدلو کې له ستونزو سره مخ کېږي؛ له سوءتفاهم، ډار او بېځایه میني سره مخ کېږي. موږ باید په دغو کتابونو کې موجودو کوډونو، اسطورو او اصلي مفاهیمو باندې پوه شو .

۲) د سیاسي او اقتصادي مکتبونو کتابونه او اساسي اثار چې زموږ په هېواد او سیمه کې د احزابو، بانفوذ ګوندونو او موثر خوځښتونو په جوړولو کې اغېزناک تمام شوي وي. دا کتابونه هم لکه د مقدسو کتابونو په څېر داسي کوډونه او مفاهیم لري، چې که ترې خبر نه شو، نو د ځینو سیاستوالو، هنرمندانو، لیکوالانو، اقتصاد پوهانو او د ټولنې د نفوذ خاوندانو په خبرو باندې پوهېدو کې به سوءتفاهم سره مخ کېږو. د بېلګې په توګه که موږ د کارل مارکس، ادم سمېت، کینز او لنین له اثارو څخه ناخبره یو، په نننی سیاست، اقتصاد او کلتور باندې په پوهېدلو کې به له ستونزو سره مخ شو.

۳) د سیاست، اقتصاد او کلتور نړۍ له ادبیاتو څخه اخیستل شویو کوډونو، نومونو او مفکورو څخه ډکه ده. که موږ د ادبیاتو له کلاسیکو اثارو سره اشنا نه شو، نو موږ پوه او اغېزناک ډیپلوماتان، سیاستوال، اقتصاد پوهان، لیکوالان او ژورنالېستان نه شو جوړېدلی. د بېلګې په توګه، که موږ شاهنامه نه وي لوستي، ډېر امکان لري، چې د فارسي ژبې په سیاسي او حتی اقتصادي پیغامونو په پېژندلو کې ځینی وخت ستونزې او سوءتفاهم سره مخ شو. که موږ د شکسپیر له ډرامو، د ویکتور هوګو له ناولونو، د بالزاک او تولستوی له ناولونو سره اشنا نه شو، د بېلګې په توګه به له غربي

سیاستوالو، اقتصاد پوهانو او لیکوالانو او په ټولیز ډول د غرب او اوسنی نړی له سیاست او کلتور سره اغېزناکې اړیکې نه شو ټینګولی.

۴) فعال منځنی سړی باید نقاشي او موسیقي هم مطالعه کړي. د موسیقی، انځورګری، سینما او تیاتر نومونه، کوډونه او مفکورې د سیاست، ژورنالېزم، کلتور او اقتصاد په نړۍ کې په لیکونو، خبرو اترو او پیغامونو کې ډېر کارول کېږي. که دا سړی د موزارټ او بیتهوون سره اشنا وي او د دوی مشهور سمفوني سره هم اشنا وي، د بېلګې په توګه؛ په دې پوه شي، چې موزارټ او بیتهوون کې کوم یو ډېر سیاسي دی، ولې د بیتهوون نهم سمفوني له ننني لوېدیځې موسیقی او کلتور سره دومره تړلی دی او هېڅ نه زړېږي او دا په اعلانونو، د مبایل زنګونو، د سړک غاړو مېلو، او د ځوانانو غونډو کې ډېر کارول کېږي، یا خبر وي، چې په انځورګرۍ او موسیقی کې ریالېزم او رومانتېزم څه شی دی، بیا به هغه د نن ورځې د سیاست، اقتصاد او کلتور په اړه ډېر ښه پوه شي.

۵) د اوسنۍ ټولنې فعال منځنی سړی باید د فلسفي اساسات هم ولولي. که هغه د ایدیالېزم او ماتریالېزم له څرنګوالي، ولې‌والي، استبداد او ازادۍ څخه خبر وي، خبریالي به یې ډېره ژوره وي، د هغه لیکنه نوره هم ګټوره کېږي، یا که هغه ډیپلومات وي، هغه کولی شي ډېر اغېزناک رول ولوبوي، یا که هغه د پوهنتون استاد وي، فلم جوړونکی او یا سندرغاړی وي، د هغه کار به ډېر ګټور وي. له تنازع بقا، دیالکتیک، تخلیق، تکامل، ماده، معنا او داسې نورو سره که فلم جوړوونکی اشنا نه وي، نو کولی یو تلپاتې او اغېزناک کار نه شي کولی، که داسې کار وهم کړي، دا به یو تصادف وي. ژورنالېستان، شاعران او سیاستوال هم یوازې د مسلکي تخنیکونو په زده کولو سره اغېزناک کار نه شي کولی، پر له دې چې د هغو ټولو مفاهیمو سره ځان اشنا کړي.

۶) یو منځی کس چې په ټولنه کې د فعال ژوند کولو اراده لري، باید د ریاضیاتو، فزیک، کیمیا او بیولوژي په اساساتو پوه شي، ترڅو د هغه نړۍلید عصري شي. هغه باید کافي حسابي او هندسي سواد ولري، ترڅو د هغه کار له وخت سره برابر وي او د خپلو همکارانو په ژبه وپوهېږي، د ننني نړۍ په لیکنو او راپورونو کې عامې نښې، ګرافونه او انځورونه ولوستلی شي او په هغو پوه شي .

۷) د دې زماني فعال منځی سړی باید په انګلیسي ژبه تسلط ولري. په الماني، فرانسوي، روسي، چینایي او جاپاني ژبو تسلط ممکن د انګلیسي ځای ډک کړي. خو حقیقت دا دی، چې په انګلیسي ژبه له تسلط پرته انسان په هر ډګر کې ممکن څو ورځې او یا میاشتې وروسته پاتې وي. هغه لیکوال چې په انګلیسي ژبه کتاب نه شي لوستلي او یا خبریال چې په انګلیسي ژبه څېړنه نه شي کولای، د هغه کس په څېر دی، چې د بل چا له لاس نه خواړه خوري او یا د بل چا له خولې څخه معلومات اخلي او څېړنه کوي.

۸) تر څو چې په یوه ځانګه کې تخصص ونه لرئ، د دې هېڅ یوه مطالعه به اغېزناکه نه وي. که موږ تخصص ونه لرو، په یوه سکتور کې مو د تولید ظرفیت او وړتیا نه وي ترلاسه کړې، که موږ په اوسنی نړۍوال بازار کې یو منل شوی مهارت ترلاسه نه کړو، نو موږ به یو ملا پاتې شو، موږ به په ډېر څه پوهېږو، خو ګټه به راته نه کوي، لکه یو کس چې په ډېرو خبرو پوهېږي خو په کار نه پوهېږي. موږ باید په خپل کاري ډګر کې کتابونه ولولو او خپل لاسونه او ذهنونه په کیبورډ، چکوش، ارې، پیچکش، موس او د دغو مسلکونو نورو کاري وسایلو سره اموخته کړو. او تر ټولو مهمه دا چې پخپل مسلک کې کار وکړو. بې‌عمله مطالعه هسې بې‌ځایه ده. نظري معلومات چې مادي او دایمي پایلې ونه لري، هغه علم نه دی. پوهه فقط پوهېدل نه دي، بلکې پوهېدل او عمل کول دي .

که موږ د کتابونو نور اوه ګروپونه ونه لولو، نو موږ به یوازې د اتم ګروپ کتابونو په لوستلو سره ماهره کارګران شو، لکه د نوي عصر په فلم کې د چارلي چاپلین په څېر موږ د ماشین یوه برخه کېږو او هر څه چې امر شی هغه به

کوو. هر ډول نمونه چې د کار مالک راکړه، له هماغه ماډل سره سم چلېږو. د د اتم نمبر کتابونو او پاتې کتابونو تر منځ د توازن رامنځته کول د نن ورځې په اغېزناک کس باندې انسان بدلوي.

موږ داسې کتابونه لرو، چې د ذهن او احساساتو د بندولو لپاره لیکل شوي دي. په دې کتابونو کې یو عجیب خوند دی. دوی له اوږده مزل وروسته د ستړي بدن لپاره د مساج په څېر دي او شاید له څو ورځو سګرټ څکولو وروسته له تنباکو څخه د ډک سګرټ په څېر وي. د دې کتابونو لوستل انسان یرغمل او مؤمن جوړوي. خو کله چې تاسو لرې لاړ شئ، له دغو کتابونو فاصله واخلئ او له احساساتو پرته د دغو کتابونو د په زړه پورې شېبو په اړه فکر وکړئ، نو تاسو به حیران شئ چې تاسو څنګه په دغو جالونو کې راګیر شوي وئ. دا کتابونه د نړۍ په هر ګوټ کې موندل کیدی شي او خورا مشهور دي. د دغو کتابونو لپاره قومونه د یو بل پر ضد راپاڅېږي؛ خلکو، کلتورونه او مذهبونه یو بل سره ښکېل او ټکر کېږي.

داسې کتابونه شتون لري چې په ورته وخت کې احساسات او عقل دواړه کنټرولوي. د فوټبال لوبې په څېر دوی ساتیري او مهارت، بریالیتوب او روغتیا سره یوځای راوړي. وچ او له خونده بې‌برخې نه دي، خو دومره لامده او احساسی هم نه دي، چې د یو کس له سر څخه څو نېزې اوبه پورته شي او غرق یې کړي. دا کتابونه کیدای شي له خلکو قرباني واخلي، خو یو څو قدمه یې مخکې هم وړي.

داسې کتابونه شته دی، چې د احساساتو له کنټرول پرته یې لوستلی او پرې پوهېدلی نه شي. دا ډول کتابونه په ښکاره وچ او ساړه ښکاري. د سطرنج لوبې په څېر لومړیو کې ساده، مبهمه او بې‌خونده ښکاري. خو کله چې تاسو دننه ورشئ، یو څو پانې ولولئ او د هغه په اساس باندې پوه شئ، دا به تاسو ته یوه پټه او تلپاتې خوښي درکړي. د دې کتابونو په لوستلو کې د پرمختګ لپاره هوښیاري او بیداري شرط دی، بالکل د شطرنج لوبې په څېر. د دغو کتابونو اغېز د لومړیو دوو ډلو په پرتله خورا ژور او ډېر جدي دی. که دا یو طوفان رامنځته کړي، دا طوفان به تر ټولو تاوتریخوالی لرونکی او ویجاړونکی طوفان وي او که دغه کتابونه برکت او سوکالي راوړي، دا به خورا پراخه او ښایسته سوکالي وي.

کتابونه زموږ انسانانو په څېر رنګارنګ او پیچلي دي. لکه څنګه چې باید په کوڅو او بازارونو کې په خلاصو سترګو او بیدارۍ سره روان شو، تر څو په کوهي کې ونه لوېږو، څوک مو ونه تېښتوي، ټکر ونه کړو، په غلطه لاره لاړ نه شو، په کتاب لوستلو کې هم باید همدومره پام او هوش ولرو.